خپل مسلمان ورور ته پسې شا دعا کول قبلېږي

له ام الدرداء او ابو الدرداء رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به فرمایل: «خپل مسلمان ورور ته پسې شا دعا کول قبلېږي، سر ته یې ګمارل شوي ملایک وي، نو هر کله چې دی خپل مسلمان ورور ته د خپر دعا غواړي، ګمارل شوي ملایک وایي: آمین، او د همده په څېر دې ستا لپاره هم وي».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د یو مسلمان دعا خپل مسلمان ورور ته د هغه په غیابت کې ځکه قبلېږي چې ډېر مخلصه وي، او دا چې د دعا کوونکي سر ته یوه ګمارل شوې ملایک وي، نو هر کله چې دی خپل مسلمان ورور ته دعا کوي، پرې ګمارل شوې ملایک وایي: آمین، او تا ته دې هم ستا د دعا مطابق درکړل شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3219